مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۶/۰۷/۰۵

# هغه شمه چې مې بله وه ساتلې

## پخوانی کلام

دارو سازه! راته داسي دارو ساز کړه
چي کاذبه خوشالي راته ډالۍ کړي
په خدای نور له رڼايي ځني ډاريږم
غواړم دا چي تاريکي راته ډالۍ کړي
***

په رڼا کې عجيبه ويره خوره ده
راته ښکاري ډاروونکي منظرونه
ترورمۍ پسي مې ځکه زړه چاودلی
ګوندي غيب شي ويروونکي کابوسونه
***

هغه شمه چې مې بله وه ساتلې
غواړم مړه يې کړم او ځان ترېنه بې غم کړم
د تيارو غېږ ته پناه په مينه يوسم
کاشکې پاتي يو څو ورځې ژوندون سم کړم
***

رندو، ولي بينايي دعاء کې غواړئ!؟
څه خبر يئ، د بيناو له عذابه
که يو ځلي مو دا زجر تجربه کړ
پښيمان به شئ، د دعاء له استجابه
***

دې نوزاده چې ژړلي باخبر و
چې راتګ دې غم خاني ته لوی خطر و
اوس به هره لحظه نوی درد محسوس کړي
د عدم غېږه عجيب ارام بستر و
***


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ځومره کرکه چې له قتله مې لرله
اوس په خپله په قاتل یم بدل شوی
هر ارمان مې خپل، په خپلو لاسو وژنم
زه په داسې یو اتل یم بدل شوی
***
زه دا نه وایم چې اوس یم ژوبل شوی
پرهرونه مې بدن کې پخواني دي
دا تازه چې ترې تودې وینې څڅیږي
سوا شوي پرې همدغه اوسني دي
***
شاید (دوست) ملنګ دا کلی درته پرېږدي
کچکول واخلي او کوم بل ځای ته روان شي
اوس خو تاسو مینه ور نکړه خپل چم کې
خو که لاړه، بیا به هر یو پښېمان شي

۱۴۰۱ /اسد ۳ /
نعمان دوست


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ